هدایت الله هدایت

۲۰۱۰/۸/۳۰

# د شیطان امپراتوري (The Evil Empire)

## امریکا نړۍ د تباهۍ پر خوا بیایي

پال کریګ روبرټس Paul Craig Roberts د امریکا د پخواني جمهور رئیس رونالډ ریګن په دولت کي د خزانې د وزارت معین وو. نوموړی د امریکا د امپریالیستي سیاست د منتقدانو څخه یو تر ټولو ټُرت ګویه شخص دئ چي خپلي زیاتي مقالي او مصاحبې یې د امریکا د دولتو د دوه مخي سیاستو و را سپړلو ته وقف کړي دي.

دنوموړي دغه لاندي مقاله لاپخوا د Information Clearing House په ویبپاڼه کي دهمدې پورته عنوان په درلودلو سره، یعني «د شیطان امپراطوري» (The Evil Empire) په نامه خپره سوې ده. لیکني دخپل ارزښت په وجه ما هغه و ژباړه او دځینو توضیحي اضافاتو سره چي په قوسینوکي قید سوي دي ګرانو لوستونکو تې وړاندي کوم.

روبرټس په دغه لیکنه کي په انتخاباتو کي داوباما د بري، د سپټامبرد یولسمي پیښي، د سی آی ای لخوا د اعتراف اخیستلو د ظالمانه شنکنجو د طریقي، په عراق او افغانستان کي د امریکا د پټو اهدافو او د انګلیس غوندي لاس پر نامه ولاړ لاسپوڅو دولتو د کړو څخه د امریکا د جمهور رئیس بارک اوباما د هغه د غتو درواغجنیو څخه پرده پورته کوي.

روبرټس په دې لیکنه کي ددې واقعیت په اثبات پسې پل را اخیستی دئ او غواړي ثابته کړي چي، اوباما یوازي دیوې لنډي مودې دپاره و قدرت رسېدلی دئ، ترڅو «د شیطان د امپراتورۍ پرسرپالي» جنایاتو باندي پرده وغوړوي او په پای کي به دغه حکومت هم لکه د نازیسم غوندي د ظالمو او ویني بهونکو حکومتو په شاني مختوری سي، او یو ځل بیا به داخبره ثابته کړي، چي امریکایي چاراواکي و خپلو حریصانه اهدافوته د رسېدو دپاره و هرکارته لاس اچوي.

د امریکا دولت نن تر هر وخت زیات تر فشار لاندي دئ . نن دلته داسي زیات کسان اوسازمانونه سته چي دغه خبره په یقین سره کوي چي پاره، موړ نور داسي څه نلرو چي د خلکو و اندېښنو ته ځواب ووایو . هغه خلک چي د جمهور رئیس او د سنا د نمایندګانو په ټاکلو سره امیدواره وه چي د هغوی د مشکلاتو بار به لږ شاني سپک سي ، خو اوس خلک ددې غوړه مال او لشم جمهور رئیس د بې وسۍ څخه مایوسه سوي دي؛ اوباما مخکي تردې چي د « تغیر» ناري ووهي د تېرو جمهور رئیسانو یاد یې تازه کړ . داسي معلومېږي چي دغه جمهور رئیس هم د پخواني روم د ناسولټه امپراتورانو په شاني به چي کله و دېواله ته و دربدل او د خپلو امپراطوریو د زوال وروستۍ ورځي به یې تر سترګو تیري سوې ، نو په هر جنایت به یې لاس پوري کاوه .

اوباما، د امریکا د جمهوري ریاست د پاره یوازي دیوې دورې د پاره را وستل سوی دئ. ه د بدلون یا تغیرهغه وعدې چي نوموړي ورکړي وې، تر اوسه یې هیڅ داسي کوم مثبت بدلون ندئ را وستئ. نوموړي چي په دې ورستیو کي د معالجوي بیمو لایحه را مخته کړه، هغه یوازي د بیمو د هغو غټو شرکتو په ګټه وه چي په لا نور و زیاتو ګټو پسي ګرځي. ددې لایحې هغه اهمه برخه داوه چي په هغه کي د ارزانه علاج او حفظ الصحوي خدماتو برخه حذف سوې ده؛ او دا هم په دې خاطر چي د هغو جګړو مصارف وربانديد تأمین کړي چي نن سبا په یوه پیچلي او بغرنجه حالت کي را ګېښوتي دي . په دې خبره پوهېدل هم په زړه پوري ده چي هغه تر ۷۰۰ ملیارده زیات ډالرونه چي د جنګي بودجې د پاره جلاسوي دي ، په واقعیت کي د ځینو خاصو شخصي کمپنیو وحسابو ته شوه کیږي . د امریکا په سرمایه داري هیواد کي د مالیه ورکونکو د عایداتو یوه لویه برخه د د ولت لخوا بیرته دخصوصي شرکتو په ګټه مصادره کیږي . اوباما د ډیموکراټانو په لباس کي نن سبا د جمهوري غوښتونکو ډیکټې عملي کوي .

جمهوري غوښتونکي او ډیموکراټان دواړه ترهغه ځایه چي په وسه یې وي دنوي مالي منابعو دپیدا کېدو د پاره تلاش کوي څو داسي فرصتونه را وزېږوي چي د شخصي کېدود سیاست په کارولو سره په جګړه ائزه اموراتو کي کار واخلي.

په اوسني حالت کي ډیري داسي شخصي کمپنیاني سته چي د کار په بازار کي حتی یو ډالرهم عاید نلري خو د خلکو د روپو څخه چي دجنګي بې پیلوټه « بوز بزکو» طیارو دپاره مالیات ورکوي، د هغه څخه خپله غوښنه برخه تر لاسه کوي.

اوباما په عراق او افغانستان کي د بوش د رژیم د ناقانونه جګړو څخه د امریکایي عسکرو په را ایستلو سره کولای سوه د یو عالي او ځانګړي فرصت په را منځته کېدو او د هغه په کارېدو سره حالات بدل کړي، خو داسي یې و نکړه او داده ددې جګړې لمن و لا نورو خواو ته غزوي. د بوش دولت د خپلې دورې په پای کي کله چي کرکېچ

زيات سوی وو،د امريکا په اردو کي يي زيات اجير او مزدور پوځيان استخدام کړل او دهغه څخه يي ګټه واخيستل، خو هغه څه چي اوباما بايد کړي وای نوموړي نه بايد د نويو اجيرو مزدورانو په استخداملو سره بلکه خپل هيواد ته يي بايد (د افغانستان او عراق په څېراشغالي هيوادو کي ديوه وسيع البنياده، ملي او ډيموکراټيک دولتي نهاد په جوړيدو سره)، د خپلو سربازانو (اجيرانو) د بيرته را ايستلو بندو بست يي کړی وای.

خو که دغه کار هم سوی وای د هغو شرکتو حساسيتونه يي بيا را پارول چي د هغوی ګټي هم د همدغه پوځي او امنيتي پيچلو مسئلو په ګرو کي پرتي دي. په دي توګه اوباما عوض ددي چي خپلي وعدي پرځای کړي په افغانستان کي يي د اور لمبی ( او لانجي) لا نوري هم تازه کړي او د هغه تر څنګ يي په پاکستان کي هم ( البته ددي هيواد د تروريستانو د سازماندهی په اصلي مراکزو کي نه بلکه د خپلو راتلونکو اهدافو د پاره په پښتني سيمو کي د ړندو بمباريو د لاري ) دجګړو لمبي و غزولي.

په دي توګه ددي پسته به موړ او د امريکا خلک د صحي بيمو پرځای، د شخصي شرکتو د لا زياتو ګټوشاهدان یو، او د سولي په ځای به د جګړو ناورينونه ګورو . د امريکا خلک چي ددي تر مخه به يي پر دېوالو باندي د نوشتو دلاري د اوباما څخه د ملاتړ اظهار کاوه، نن د اوباما او د هغه د ډيموکراټ ګوند څخه د تيت او پرک کېدو په حال کي دي . هغه خپلواکه ډلو چي د اوباما د برياليتوب لپاره يي زياتي مرستي کړي وی ، نن د هغه پر ضد را ولاړ سوي او موضع نيسي . په نيوجرسي او ويرجينيا کي چي څه موده دوه جمهوري غوښتونکو واليان مقررسول، نودا د ډيموکراټ ګوند بری نه بلکه دا د اوبا ما د دولت پر ضد د اعتراض يوه نتيجه وه .

د اوباما اعتبار اوس پر مخکه لوېدلی دئ . د امريکا د مدعا نه ډکه کنګره په خلکو کي خپل هغه پخوانی اعتبار هم دلاسه ورکړی دئ . د امريکا د وکيلانو دغه مجلس اوس يوازي ددي دپاره رايي ورکوي چي و ټولي نړی ته وښيي چي دغه دنمايندګانو مجلس غير له يو څو رشوتخوره، غوړه ماله او جيره خوره لاسپوڅو څخه بل څه نه دئ او هغه هم د صهيونيستي لابيانو په لاس کي تا و بالا کيږي . د وکيلانو مجلس يوازي د خپل ارباب و فرمان ته چي د ايپک (American Israel Public Affairs Committee) يا (AIPAC) په نامه ياديږي غوږ نيسي، هغوی د ۳۶ مخالفو را يو په مقل کي په ۳۴۴ موافقو رايو سره د ګولډ ستون ګزارش محکوم کړ .

شايد ځني به نه وي خبر، چي د ګولډستون (Goldstone Report)ګزارش داسي ګزارش وو چي د ملګروملتو د حقيقت پلټني کمېټي لخوا، د غزې په هکله تهيه سوی وو. د غزې په جګړه کي د اسرائيلو اردو چي د امريکا د هر اړخيز ملاتړ څخه برخمن وو، د غزې پر کوچنوټي ښار چي يو نيم ميلون تنه مظلوم فليسطينان پکښي اوسېدل ، حمله وکړه . په دي حمله کي د يوه سره ملکي خلک ، غير پوځي تاسيسات او اقتصادي مرکزونه په نښه سوي وه . اصلاً په دې کي هيڅ شک نسته چي په دې جګړه کي لوی جنګي جنايت تر سره سوی دئ .

ر يچاړد ګولډ ستون (Richard Goldstone) چي پخپله يو وتلی يهودي قاضي دئ خپل ټوله ژوند يي و خلکو ته د جنګي جنايت کارانو په پيژندنه کي وقف کړی دئ ، په همدې خاطر ده چي نوموړی او د هغه کورنی نن د صهيونيستانو لخوا د مرګ تر تهديد لاندي ده .

کله چي د امريکا د کانګرس غړي ډينس کوسينيک (Dennis Kucinich) چي ، نن سبا به بی له شکه د ايپک د سياسي لست د قربانيانو په جمله کي راغلی وي ، د نمايندګانو د مجلس څخه و پوښتل ، تاسو چي د ګولډسټون شرمناکه ګزارش محکوموی آيا اصلاً ددي ګزارش د محتوی څخه خبر هم ا ياست ؟! مګر داسي نه ده چي ټوله نړی دغه ګزارش تائيدوي ؟ مجلس و دې پوښتني ته داسي ځواب ورکړ : ټوله نړی داسي فکر نه کوي چي که نمايندګان هم و دغه ګزارش ته رايه ور نکړي، نو په کنګره کي به هيڅکله هم ځای ونلري !

امريکا؛ په نړی کي دغه د ډيموکراسی تر ټولو باټک مدعي څه موده مخکي د يوه بل شرمناک عمل څخه هم پرده پورته سوه . دا پلا دغه عمل نه د شخصي شرکتو په ګټه د صحي بيمو د لايحي په چوکاټ کي او نه هم د ګولډسټون په ګزارش کي بلکه د ايتاليا په يوې محکمه کي را منځته سو . دغه محکمي د امريکا د جاسوسي شبکي يعني سي آی اې ۲۳ تنه افسران په ايتاليا کي د يوه سړي د تښتولو په اتهام محکوم کړل . يعني د امريکا د جاسوسی سازمان اوس په ايتاليا کي « تر قانوني تعقيب لاندي مجرم» دئ . دغه سړی د مصر و لاسپوځي دولت ته سپارل سوی او په هغه ځای کي کلونه ساتل سوی دئ،چي تر سختو شکنجو لاندي راغلی وو. ددې شخص کېس دونه شرمناکه وو چي کله په مصر کي يوې محکمي د هغه په واقعيت باندي پوه سو نو سمدستي يي د خلاصېدو امر ورکړ.

يو د هغه محکومو کسانو څخه چي د سيا تر تيغ لاندي نيول سوی وو،يوه ښځه وه چي اعتراف يي کړی دئ، ددغه شخص په تښتولو کي د امريکا هدف دا وو چي د هغه څخه يو «تروريسټ » جوړکي او په هغه باندي خپله د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

«ترویریسټ جوړوني» پروژه فعاله و ساتي . امریکا دداسي « ترویریسټ » جوړوني د دروغجنو اتهاماتو نه بغیر د جګړو د اوربلوني عامل د لاسه ورکوي .

کریګ موري (Craig Murray) چي تر ۲۰۰۴ کال پوري په ازبکستان کي د انګلستان سفیر وو، را وروسته په سکاټلند کي د ډنډي (Dundee) ډیوهنتون رئیس سو . نوموړي د ازبکستان دولت یو ډیکټاټور دولت ګڼي چي د امریکا پراخ ملاتړ هم ور سره دئ . موري د خپل سفارت په وخت کي متوجه سو ، په کورني چارو کي د انګلستان جاسوسي سازمان یعني ایم آی ۵ (MI5) د امریکا د جاسوسي سازمان څخه د وحشیانه شکنجو بنوونه تر لاسه کوي . داسي شکنجي چي لیدل یي څه کوي چي حتی اوریدل یي د انسان پر بدن باندي وربښتان جګ دروي .

د دغه شکنجو ګزارشونه به د سي آی اي لخوا و « ایم آی ۵» ته او د هغه ځایه به و واشنګټن ته استول کېدل. دغه ګزارشونه به بیا «د القاعدې د ترویریستي ډلي د پراخو توطئو د اسنادو» په نامه د مقاماتو ترمینځ لاس پرلاس ګرځېدل.

موري دغه خبره پاش کړه چي دغه کسان د امریکا د جاسوسی د سازمان لخوا د ازبکستان و زندانو ته لېږل کېدله تر څو هلته بنه شکنجه سي او داسي اقرار ځني واخلي څو ووایي د القایدي غړي دي. د هغوی څخه غوښتل کېدله چي ووایي د افغانستان په سیمو کي ورته ترویریستي زده کړي سوي او پخپله یي د اسامه بن لادن سره هم لیدلي دي. دغو اعترافاتوته به بیا د سي آی اي لخوا پریمانه ډنډوري وهل کېدلې. د انګلستان پخوانی سفیر وایي زه بیخي ګیچ سوی وم ګیچ په دې خاطر چي ما خیال کاوه په یوه ډیموکراتیک هیواد کي ژوند کوم. آیا زما د هیواد( برتانیا) نیژدې هم پیمانه یعني امریکا په رشتیاد ډیموکراتیکو هیوادو په کتارکي راځي. د بشري حقوقو، د آزادی، اخلاقیاتو، انسانیت او داسي نورو پای به څه کیږي؟ آیا دا هماغه نازیسم او ستالیني ستایل بدعت نه دئ چي د خپلو ګټو د پاره و هر جنایت ته لاس اچوي ؟

کله چي موري په ډېر و هغه شیانو چي باید پوه سوی وای، پوه سو نو هغه وخت د کاره و شړل سو . نوموړي توله هغه څه چي زده کړي یي وه « د هغه د دماغه څخه وایستل سوه » . هغه په خپلو سترګو هغه اسناد او مدارک لیدلي وه چي ثابتول یي پر عراق او افغانستان باندي د امریکا او انګلیس د لښکر کشیو هدف د ازبکستان او ترکمنستان و طبیعي زیرمو ته ځان رسول وه . امریکایانو و انرژۍ ته د رسېدو داسي لاري غوښتلي چي د افغانستانه څخه تیر سي . دداسي یوه کار د عملي کېدو د پاره یي ځانته دغه ماموریت ټاکلی وو او د هغه عملي کېدل یي یو ضرورت باله . دغه شوده ګان په دې بنه پوهېدل چي د داسي یوي جګړې د شروع دپاره دسپتمبر د یولسمي حملي سناریو و دوی ته بنه مغزنه بانه په لاس ورکولای سي ،ترڅو و خلکو ته ووایي ستاسو د ځان د خوندیتوب او د ترویریستانو سره د مبارزې په خاطر موږ په دغه جګړو لاس پور ي کړ.

هغه خلکو چي د سپتمبر د یولسمي حادثه یي د نیژدې لیدلي وه، په ځانګړي توګه چي بیا دغه کسان عادي خلک وه ، په خورا آساني سره یي په داسي لویوچلیاتو باور کاوه .

کافي ده چي په افغانستان کي د امریکایي او ناټویي ځواکو د ځای پرځای کېدو و طریقي ته ځوک بنه پاملرنه وکي. دغه قوواوي داسي ځای پرځای سوي دي چي وکولای سي د انرژۍ او پایپ لینو د تېرېدو پرنکتو باندي تسلط ولري، دغه ډول نظامي سینګار هیڅکه هم د هغه نظامي تاکتیکو سره سر نه خوري چي د ترویریستانو سره د مبارزې د پاره باید و کارول سي. د ډیموکراسی د راوستلو د پاره هم نه دي. دغه لښکر کشي صرف د پیسو او د انرژۍ و منابعو ته لاسرسي وه، د ډیموکراسی په دغه روانو شعارو باندي هیڅ اړه نلري.

کله چي کوچنی جورج بوش په هغه وخت کي د تکزاس والي وو نو تاسو څه فکر کوئ چي د امریکایي کمپنۍ، انرون (Enron) سره د موافقت نامي د همآهنګی مشاور څوک وو چي د ازبکستان او ترکمنستان دګازي منابعو په اړه یي و هغه ته د پانګي اچوني حق ورکاوه . او یادا چي د یو نیکال (Unocal)وکالیفورنیایي نفتي شرکت ته چا د افغانستان د نفتی لارو دغزولو او پراخولو امکانات برابر کړل.

دغه شخص په افغانستان باندي همدغه تحمیل سوی کرزی وو چي په هیواد کي د امریکایانو د ځواک نه پرته بل هیڅ ولسي ملاتړ نلري. «موري» سفیر ددغه افشاګریو په خاطر سمدلاسه د انګلستان د خارجي سرویس د خدمت څخه خلعه سو. په د ې کي هیڅ شک نسته چي زموږ لاسپوڅی انګلیس د واشنګټن په مستقیم امر هغه ایسته کړ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ